د افغانستان اسلامي امارت
د ارشاد، حج او اوقافو وزارت
د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او
لیکلی تقریر اوبیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو
ټولو خطیبانو ته په دواړو ملی ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي

۶ / جمادي الثانية /۱۴۴۴ هـ، ق موافق به ۹/ جدي/۱۴۰۱هـ، ش

# د جمعې د ورځې فضائل او اداب

الحمد لله الذی جعل یوم الجمعة سید الایام ، واختص به هذه الامة من بین الانام احمده علی نعمه العظام، واشهد ان لا اله الا الله الملک العلام، واشهد ان محمداً عبده ورسوله صلی الله علیه وعلی اله واصحابه ما تعاقبت اللیالی والایام، وسلم تسلیمًا کثیراً.

اما بعد فقد قال رسولُ الله صلی الله علیه وسلم في فضیلة یوم الجمعة: (ما طلعتِ الشمسُ ولا غَرَبَت علی یومٍ افْضَلَ منه ، فیه ساعةٌ لا یُوافقُها عبْدٌ مؤمِنٌ یدعو اللّه بخیر الا استجابَ اللّه له ، ولا یستعیذُ من شَرّ الا اَعاذَه اللّه منه.) اخرجه الترمذي.

## د جمعې د ورځې فضائل:

الله تعالی ځینو ځایونو ته په ځینو نورو فضیلت ورکړی دی،لکه مکه مکرمه، مدینه منوره ، بیت المقدس، ځینو میاشتو ته یې په ځینو نورو میاشتو فضیلت ورکړی دی لکه د روژې میاشت،د حج میاشتې، او ځینو شپو ته یې په ځینو نورو شپو فضیلت ورکړي دی لکه د قدر شپه، د ذوالحجې لومړنۍ لس شپې، دشپې منځنۍ او اخري برخه، او ځینو وختونو ته یې په ځینو نورو وختونو فضیلت ورکړی دی لکه د لمازیګر وخت، او ځینو ورځو ته یې په ځینو نورو ورځو فضیلت ورکړی دی، چې د هغو ورځو له جملې څخه چې د هفتې په عامو ورځو باندې فضیلت لري د جمعې مبارکه ورځ ده.
د جمعې مبارکه ورځ د هفتې په ورځو کې غوره ورځ ده او په دې ورځ کې لوی لوی واقعات پیښ شوي دي؛ لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:(خَیْرُ یَومٍ طَلَعَتْ عَلَیْهِ الشَّمْسُ یَوْمُ الجُمُعَةِ : فِیهِ خُلِقَ ادَمُ ، وَفِیهِ أُدْخِلَ الجَنّةَ ، وَفِیهِ أُخْرِجَ مِنْهَا ولا تقوم الساعة الا في یوم الجمعة ).رواه مسلم .

ترجمه:- هغه غوره ورځ چې لمر په کې ختلی دی د جمعې ورځ ده. په دې ورځ کې ادم علیه السلام پیدا شوی دی او په دې ورځ کې ادم علیه السلام جنت ته داخل شوی دی او د جمعې په ورځ کې له جنت څخه راویستل شوی دی او قیامت به نه قائمیږي مګر د جمعې په ورځ کې.

د جمعې د ورځې فضیلت له دې امله دی چې په دې ورځ کې داسې لوی لوی واقعات رامنځ ته شوي دي او څه به واقع کیږي. دادم علیه السلام راویستل د جنت څخه ددې فضیلت ګرځول شوی دی چې د هغه راوتل د هغه د اولاد لپاره ذریعه شوه او د هغه په اولاد کې پیغمبران هم شته او اولیاء هم شته او دا دالله تعالی دقضاء او تقدیر برخه ده او په اخرت کې به بیرته جنت ته داخلیږي او د قیامت واقع کیدل هم ددې لپاره فضیلت ګرځول شوی دی چې صالحان خپلو نیکو بدلو ته ژرورسیږي.[الدیباج علی مسلم]

همدا راز په حدیث شریف کې د جمعې ورځ ته (سید الایام) ورځ ویل شوی ده.

(عَنْ اَبِي لُبَابَةَ بْنِ عَبْدِ الْمُنْذِرِ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ: اِنَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ سَيِّدُ الاَيَّامِ، وَاَعْظَمُهَا عِنْدَ اللهِ، وَهُوَ اَعْظَمُ عِنْدَ اللهِ مِنْ يَوْمِ الاَضْحَى وَيَوْمِ الْفِطْرِ، فِيهِ خَمْسُ خِلاَلٍ: خَلَقَ اللّهُ فِيهِ ادمَ، وَاَهْبَطَ اللّهُ فِيهِ ادمَ اِلَى الاَرْضِ، وَفِيهِ تَوَفَّى اللّهُ ادمَ، وَفِيهِ سَاعَةٌ لاَ يَسْأَلُ اللّهَ فِيهَا الْعَبْدُ شَيْئًا الاَّ اَعْطَاهُ، مَا لَمْ يَسْأَلْ حَرَامًا، وَفِيهِ تَقُومُ السَّاعَةُ، مَا مِنْ مَلَكٍ مُقَرَّبٍ، وَلاَ سَمَاءٍ، وَلاَ اَرْضٍ، وَلاَ رِيَاحٍ، وَلاَ جِبَالٍ، وَلاَ بَحْرٍ، اِلاَّ هُنَّ يُشْفِقْنَ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ). مسند احمد، سنن ابن ماجة.

ترجمه:- د ابولبابه بن عبد المنذررضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: بیشکه د جمعې ورځ سید الایام ورځ ده او په ورځو کې ډیره لویه ورځ ده دالله تعالی په نزد، د جمعې ورځ د الله تعالی په نزد ډیره لویه ده نسبت د لوی اختر ورځ ته او د کوچني اختر ورځ ته. په دې ورځ کې پنځه ډوله کارونه واقع شوي دي، په دې ورځ کې الله تعالی حضرت ادم علیه السلام پیدا کړی دی او الله تعالی په دې ورځ کې رانښکته کړی دی ادم علیه السلام ځمکې ته او په دې ورځ کې الله تعالی ادم علیه السلام وفات کړی دی، په دې ورځ کې داسې یو ساعت (وخت) دی چې نه غواړي بنده دالله تعالی څخه په کې هیڅ شی؛ مګر هغه ورته ورکوي، ترڅو چې د حرامو غوښتنه یې نه وي کړی او په دې ورځ کې به قیامت قائمیږي، الله تعالی ته هیڅ نږدې ملائکه نشته او نه اسمان،او نه ځمکه او نه هواګانې او نه غرونه او نه بحر؛ مګر داټول ویریږي د ورځې د جمعې څخه (چې قیامت په کې قائم نشي).

ددې حديث شريف څخه په ډاګه معلوميږي چې ټول مخلوق پوهيږي چې قيامت به د جمعې په ورځ کې قائميږي. [حاشية السندي على ابن ماجه]

د جمعې ورځ ددې امت مسلمانانو لپاره د اختر ورځ ده او د جمعې ورځ ددې امت خصوصيت دی، نو په کار ده چې د اختر د ورځې په شان په کې امادګي ونيول شي.

په يو حديث شريف کې راځي: (عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ : اِنَّ هَذَا يَوْمُ عِيدٍ ، جَعَلَهُ اللّهُ لِلْمُسْلِمِينَ ، فَمَنْ جَاءَ اِلَى الْجُمُعَةِ فَلْيَغْتَسِلْ ، وَاِنْ كَانَ طِيبٌ فَلْيَمَسَّ مِنْهُ ، وَعَلَيْكُمْ بِالسِّوَاكِ). [سنن ابن ماجة، ابن ابي شيبة قال المنذرى: اسناده حسن]

ترجمه:- د عبد الله بن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي بيشکه دا (جمعه) د اختر ورځ ده الله تعالى د مسلمانانو لپاره ګرځولی ده، پس څوک چې راشي جمعې ورځې لمانځه ته بايد غسل وکړي او که چيرې خوشبوی ورسره وي بايد دهغې څخه خوشبوی ولګوي په ځان او په تاسې د مسواک استعمال په کاردی.

په يو بل حديث شريف کې راځي: (عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّهِ -صلى الله عليه وسلم- فِى جُمُعَةٍ مِنَ الْجُمَعِ : يَا مَعَاشِرَ الْمُسْلِمِينَ اِنَّ هَذَا يَوْمٌ جَعَلَهُ اللّهُ تَعَالَى لَكُمْ عِيداً، فَاغْتَسِلُوا وَعَلَيْكُمْ بِالسِّوَاكِ). السنن الكبرى للبيهقي

ترجمه:- دابوهريره رضى الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د جمعو څخه په يوه جمعه کې وفرمايل: ای مسلمانانو! بيشکه دا ورځ ګرځولی ده الله ستاسو لپاره اختر، پس غسل وکړئ او په تاسې باندې د مسواک استعمال اړين دی.

د جمعې په ورځ کې هغه وخت او ساعت دی پروت دی چې د مسلمان دعاء په کې قبليږي. په حديث شريف کې رازي: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُولَ اللهِ –صلى الله علىه سلم- ذَكَرَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَقَالَ فِيهِ سَاعَةٌ لَا يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي يَسْأَلُ اللهَ تَعَالَى شَيْئًا اِلَّا اَعْطَاهُ اِيَّاهُ وَأَشَارَ بِيَدِهِ يُقَلِّلُهَا). صحيح البخاري

ترجمه:- دابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د جمعې د ورځې ذکر وکړ او وه يې فرمايل: په ورځ دجمعې کې يو ساعت دی نه برابريږي ورسره مسلمان بنده په داسې حال کې

چې هغه ولاړ وي لمونځ کوي چې الله تعالی څخه وغواړي کوم شی ؛ مگر دا چې ورکوي يې ورته همدغه ته. او اشاره وکړه په لاس باندې دايې کم وګڼلو. يعنی دا ساعت ډير کم وخت دی.

د مسلم په روايت کې راځي:(هي ساعة خفية) دا وخت پټ دی . الله تعالی دا وخت ددې لپاره پټ کړی ده تر څو مسلمانان او رغبت والا خلک يې د جمعې د ورځې په هره لحظه کې يې ولټوي.

امام نووي رحمه الله وايي: دا مستحب ده چې د جمعې په ټوله ورځ کې زياته دعاء وغوښتل شي د سحر ختلو څخه د لمر ترغروب پورې، په دې اميد چې دعاء د اجابت د ساعت سره تصادف وشي.[الاذکار]

د امام عبدالرزاق په مصنف کې داسې واقعه نقل ده چې يو ځل رسول الله صلی الله عليه وسلم د مازيګر دلمانځه جماعت ورکولو او صحابه کرام ورپسې ولاړ وو، په دې وخت کې يو سپی راغی او ددوی په مخکې يې د تيريدلو اراده لرله ناڅاپه داسپی را ولويدلو او ددوی په مخکې د تيردلو څخه مخکې مړ شو، کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم لمونځ پوره کړ صحابه کرامو ته يې مخ را وګرځولو او وه يې فرمايل: (ايکم دعا عليه؟) په تاسو کې چا دې سپي ته خيرا وکړه؟ يو کس ووېل: ما ورته خيرا ( بددعائې) وکړه . نبي عليه السلام وفرمائل: ( لو دعا علی امة من الامم لاستجيب له) که چيرې ده خيرا کړی وی کوم ملت ته د ملتونو څخه خامخا خيرا به يې قبوله شوی وه. [مصنف عبد الرزاق]

د جمعې هغه مبارکه ورځ ده چې په قران کريم کې يې ذکر شوی دی او الله تعالی ورباندې قسم ياد کړی دی او په کوم مخلوق چې الله تعالی قسم ياد کړي په دې کې د هغه مخلوق عظمت ته اشاره وي.

الله تعالی فرمايلي دي:(اذَا نُودِيَ لِلصّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الجُمُعَةِ) کله چې اواز وشي په ورځ د جمعې کې .

په بل ايت کريمه کې الله تعالی فرمايلي دي:(وَشَاهِدٍ ، وَمَشْهُودٍ) او قسم دې وي زما په شاهد او مشهود باندې.

په يو حديث شريف کې راځي: (عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّهِ صَلّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: الْيَوْمُ الْمَوْعُودُ يَوْمُ الْقِيَامَةِ وَالشّاهِدُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ وَالْمَشْهُودُ يَوْمُ عَرَفَةَ). مسند احمد ، فضائل الاوقات للبيهقي دابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : د اليوم الموعود څخه د قيامت ورځ مراد ده، د(الشاهد) څخه دجمعې ورځ مرادده او د (المشهود) څخه د عرفې ورځ مراد ده.

حضرت علی کرم الله وجهه فرمايي چې د (شاهد) څخه مراد د جمعې مبارکه ورځ ده.[تفسير ابن جرير]

د جمعې مبارکه ورځ د ګناهونو د مغفرت ورځ ده او په دې ورځ کې الله تعالی خپلو بندګانو ته دهغوی ګناهونه وربښي.

په يو حديث شريف کې راځي: (عَنْ اَبِی هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّهِ -صلى الله عليه وسلم-: مَنْ تَوَضّاَ فَاَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمّ اَتَى الْجُمُعَةَ فَاسْتَمَعَ وَاَنْصَتَ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَ الْجُمُعَةِ اِلَى الْجُمُعَةِ). سنن ابی داود

ترجمه:- د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دی څوک چې اودس وکړي او ښه اودس وکړي بيا دجمعې لمانځه ته راشي او خطبې ته غوږ ونيسي و به ښښل شي ورته هغه ګناهونه چې د يو جمعې څخه تر بلی جمعې پوری کړي دي.

په يو حديث شريف کې پيغمبر عليه السلام دجمعې ورځ د ګناهونو دښښلو ورځ شميرلې ده.

په حديث شريف کې راځي: (الصلوات الخمس والجمعة الى الجمعة والرمضان الى رمضان مکفرات مابينهن اذا اجتنب الکبائر)رواه مسلم

ترجمه:- پنځه وخته لمونځ او يوه جمعه تر بلې جمعې پوری او يو رمضان د بل رمضان پوری ښښونکي دي د هغه ګناهونو چې ددوی په منځ کې دي کله چې دکبيره ګناهونو څخه ځان وژغوري.

څوک چې د جمعې په ورځ يا د جمعې په شپه کې وفات شي او دفن شي د قبر له عذاب څخه به په امن او امان کې وي.

په يو حديث شريف کې راځي: (عَنْ عَبْدِ اللّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَمُوتُ يَوْمَ الجُمُعَةِ اَوْ لَيْلَةَ الجُمُعَةِ اِلّا وَقَاهُ اللّهُ فِتْنَةَ القَبْرِ). سنن الترمذي

ترجمه:- د عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي داسې مسلمان نشته چې مړ شي په ورځ د جمعې کې او يا په شپه د جمعې کې؛ مګر دا چې وبه يې ساتي الله تعالی د قبر له عذاب څخه.

امام حکيم ترمذی وايي: د جمعې په ورځ جهنم نه ګرمول کيږي او د جهنم دروازي بندې وي.[نوادرالاصول]

**د جمعې د ورځې اداب:**

**۱- د نوکانو اخیستل او ویښتان اخیستل.**

**دا د جمعې د ادابو څخه دي چې مسلمان باید د جمعې په ورځ خپل نوکان لنډ کړي او د وجود اضافي ویښتان هم لري کړي او یا یې کم کړي. په یو حدیث شریف کې راځي: (عَن ابي هُرَیرة ؛ ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان یقلم اظفاره ویقص شاربه یوم الجمعة قبل ان یخرج الی الصلاة). مسند البزار**

**ترجمه:- د ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به کمول نوکان خپل او کمول به یې بریتونه خپل د چمعې په ورځ مخکې له دینه چې ووزي لمانځه ته.**

**په یو روایت کې راځي:(عن نافع ؛ ان عبد الله بن عمر کان یقلم اظفاره، ویقص شاربه في کل جمعة). الجامع لابن وهب ترجمه: نافع رحمه الله وایې چې د عبدالله بن عمررضي الله عنه به کمول خپل نوکان او کمولو به یې خپل بریتونه په هره جمعه کې.**

**۲-د جمعې په ورځ کې د غسل کول.**

**د جمعې له ادابو څخه د جمعې په ورځ غسل کول دي. په کار ده چې مسلمان بدون له حاجت څخه په هفته کې یوځل غسل وکړي؛ ځکه په غسل سره طهارت رامنځ ته کیږي او طهارت دایمان برخه ده، عموماً په اوو ورځو کې دمسلمان جسم حتما خیرن کیږي، نو په کارده چې د جمعې په ورځ غسل وکړي ترڅو د جمعې لمانځه په پاک صورت سره ولاړ شي.په حدیث شریف کې راځي: (مَنْ جَاءَ مِنْكُمُ الْجُمُعَةَ فَلْيَغْتَسِلْ). صحیح البخاري**

**ترجمه:- څوک چې ستاسې څخه د جمعې لمانځه ته د راتللو اراده وکړي، نو باید چې غسل وکړي.**

**د مسلم په روایت کې راځي:(اذا اراد احدکم ان یاتي الجمعة فلیغتسل) صحیح مسلم**

**ترجمه:- څوک چې ستاسې څخه یو څوک اراده وکړي چې دجمعې لمانځه ته راشي باید غسل وکړي.**

**دامام حاکم په روایت کې راځي:(مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ كَانَ فِي طَهَارَةٍ اِلَى الْجُمُعَةِ الْأُخْرَى). المستدرک للحاکم ترجمه: چاچې د جمعې په ورځ غسل وکړ داسې شخص به پاک وي دخیري څخه تربلی جمعې پوری.**

۳-پاکې او ښایسته جامې اغوستل او خوشبوئی لګول.

د جمعې په ورځ  پاکې او ښایسته جامې واغوستل او خوشبوی لګول د جمعې له ادابو او مستحباتو څخه دي. په حدیث شریف کې راځي:(عَنْ اَبِی سَعِیدِ الْخُدْرِیّ وَاَبِی هُرَیْرَةَ قَالاَ قَالَ رَسُولُ اللّه -صلی الله علیه وسلم-:مَنِ اغْتَسَلَ یَوْمَ الْجُمُعَةِ وَلَبِسَ مِنْ اَحْسَنِ ثِیَابِهِ وَمَسّ مِنْ طِیبٍ - اِنْ کَانَ عِنْدَهُ - ثُمّ اَتَی الْجُمُعَةَ فَلَمْ یَتَخَطّ اَعْنَاقَ النّاسِ ثُمّ صَلّی مَا کَتَبَ اللّهُ لَهُ ثُمّ اَنْصَتَ اِذَا خَرَجَ اِمَامُهُ حَتّی یَفْرُغَ مِنْ صَلاَتِهِ کَانَتْ کَفّارَةً لِمَا بَیْنَهَا وَبَیْنَ جُمُعَتِهِ الّتِی قَبْلَهَا). سنن ابی داود

ترجمه:- د ابوسعید خدری او ابوهریره رضي الله عنهما څخه روایت دی دوی دواړه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې د جمعې په ورځ غسل وکړي او خپلې ښکلی جامې واغوندي او خوشبوی ولګوي –که چیرې ورسره وي- بیاد جمعې لمانځه ته راشي او د خلکو په څټونو تیر نشي ( داسې چې وختي راشي او کوم ځای ته چې ورسیږي همالته کیني) او بیا لمونځ وکړي هرڅومره چې الله تعالی ورته لیکلي وي، بیا خطبې ته غوږ ونیسي کله چې یې امام د خطبې ویلو لپاره راوزي تردې پوری چې د خپل لمانځه څخه فارغ شي، دده دا فعل به کفاره وي د هغه ګناهونو چې په مابین ددې جمعې او د هغې جمعې چې ددې څخه مخکې تیره شوی وي.

په یو بل حدیث شریف کې راځي:(مَا عَلَی اَحَدِکُمْ اِنْ وَجَدَ اَوْ مَا عَلَی اَحَدِکُمْ اِنْ وَجَدْتُمْ اَنْ یَتّخِذَ ثَوْبَیْنِ لِیَوْمِ الْجُمُعَةِ سِوَی ثَوْبَیْ مَهْنَتِهِ). سنن ابی داود

ترجمه:- په دې کې په یو د ستاسې باندې کوم حرج نشته که پیداکړي او یا داچې په یو د ستاسې باندې کوم حرج نشته په دې کې چې ولري یو جوړه جامې د جمعې ورځې لپاره علاوه د کار د جوړه جامو څخه.

دا حدیث استحبابا په دې دلالت کوي چې مسلمان د جمعې لپاره جدا یوه جوړه جامې ولري.

۴- د جمعې په شپه یا دجمعې په ورځ کې په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې درود ویل.

د جمعې په شپه او یا دجمعې به ورځ کې په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې درود ویل مستحب دي. په یو حدیث شریف کې راځي:(عَنْ اَوْسِ بْنِ اَوْسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّه -صلی الله علیه وسلم-: اِنّ مِنْ اَفْضَلِ اَیّامِکُمْ یَوْمَ الْجُمُعَةِ فِیهِ خُلِقَ آدَمُ وَفِیهِ قُبِضَ وَفِیهِ النّفْخَةُ وَفِیهِ الصّعْقَةُ فَاَکْثِرُوا عَلَیّ مِنَ الصّلاَةِ فِیهِ فَاِنّ صَلاَتَکُمْ مَعْرُوضَةٌ عَلَیّ). سنن ابی داود

ترجمه:- د اوس بن اوس رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي بیشکه ستاسو په ورځو کې غوره ورځ د جمعې ورځ ده ، په دې ورځ پیداشوی دی ادم علیه السلام او په همدې ورځ کې یې روح قبض شوی دی او په دې ورځ کې به داسرافیل شپیل پوکول کیږي او په همدې ورځ به خلک بیهوشه کیږي، پس زیات وویاست پرما باندې درود په دې ورځ کې بیشکه ستاسې درود ماته وړاندې کول کیږي.

امام حاکم په مستدرک دا روایت نقل کړی دی رسول الله صلی الله فرمایلی دي چې :(اَكْثِرُوا عَلَيّ الصَّلَاةَ فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ، فَاِنَّهُ لَيْسَ اَحَدٌ يُصَلِّي عَلَيّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ اِلّا عُرِضَتْ عَلَيّ صَلَاتُهُ). المستدرک للحاکم

ترجمه:- پرما باندې درود زیات وویاست د جمعې په ورځ، بیشکه نشته هیڅوک له تاسې نه چې پرما باندې درود ووایې د جمعې په ورځ ؛ مګر داچې ماته وړاندې کیږي دا درود دده.

۵- د جمعې په ورځ د الکهف سورت لوستل.

د جمعې په ورځ د الکهف سورت لوستل مستحب دي. څوک چې د الکهف سورت لومړني لس ایتونه په یادو زده کړي د دجال دفتنې څخه به وساتل شي.

په یو حدیث شریف کې راځي:( مَنْ قَرَاَ سُورَةَ الْكَهْفِ فِى يَوْمِ الْجُمُعَةِ اَضَاءَ لَهُ مِنَ النُّورِ مَا بَيْنَ الْجُمُعَتَيْنِ). المستدرک للحاکم، السنن الکبری للبیهقي

ترجمه:- څوک چې د الکهف سورت ووایې د جمعې په ورځ کې نور به ورته روښانه کړي په مابین ددوه جمعو کې.

۶- دجمعې په ورځ روژه نیول.

د جمعې په ورځ روژه نیول مستحب عمل دی. علمای کرام وایې چې د جمعې په ورځ روژه نیول مستحب دي چې مخکې ورځ هم روژه ورسره ونیول شي او یا د جمعې څخه وروسته ورځ روژه ورسره ونیول شي . په حدیث شریف کې رازي: (عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ يَصُومُ مِنْ غُرّةِ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ اَيّامٍ، وَقَلّمَا كَانَ يُفْطِرُ يَوْمَ الجُمُعَةِ). سنن الترمذي

ترجمه:- د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د هرې مياشتې په اولنيو دری ورځو کې روژه نيوله او ډير کم به يې روژه ماتوله د جمعې په ورځ.

۷- د جمعې په ورځ قبرستان ته تلل.

د جمعې په ورځ قبرستان ته تلل او مړو ته دعاء کول مستحب عمل دی. په ځانګړي توګه د مور او پلار قبرته ورتلل.

په حديث شريف کې راځي: (عن ابي هريرة. قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: من زار قبر ابويه، او احدهما في کل جمعة، غفر له، وکتب برا ). اخرجه الحکيم الترمذي، في نوادر الاصول، والطبراني في الاوسط

ترجمه:- دابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي څوک چېد مور او پلار د قبرونو زيات ته ورشي او يا يو ددې دواړو قبر ته ورشي په هره جمعه کې هغه ته به ښنه وشي او وبه ليکلی شي نيکو کار.

د امام احمد رحمه الله په خپل مسند کې يو حديث ذکر کړی دی: (عن ابي هريرة قال: سمعت رسول الله صلی الله عليه وسلم يقول: ان اعمال بني ادم تعرض کل خميس، ليلة الجمعة، فلا يقبل عمل قاطع رحم ) .مسند احمد.

ترجمه:- د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې ما درسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې وه يې فرمايل: بيشکه د انسانانو اعمال پيش کولی شي په هره پنجشنبه او جمعې ورځ شپه نه قبليږي عمل دهغه چاچې خپلولي پری کوي.

اقول قولي، هذا استغفرالله لي ولکم ولسائر المسلمين، واستغفروه انه هو الغغور الرحيم

والسلام عليکم